

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۴۸ | مسلسل نمبر: ۱۳۸ | چهارشنبه، رمضان المبارک ۲۲مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال


## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټه کې د لمريزې برېښنا د توليد او سوداګريز مارکېټ جوړولو پر طرح بحث وشو



۲ صفحه

## د امو سيند پر غاړه د تخريب شوي ځمکې د بېرته رغونې طرحه د تاييد وړ وبلل شوه



۳مه صفحه

## د کبانو روزنې د پراختيا اهميت او اقتصادي اغېزې يې



۴مه صفحه



# سرليکنه

د افغانستان بانک تازه اعلان کړی، چې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال په دلوې مياشت کې د افغانۍ ارزښت د تېر کال د همدې مودې په پرتله د ډالرو پر وړاندې ۱۳،۱ سلنه لوړ شوی. دغه بانک زياته کړې چې د غوره مالي پاليسيو د پلې کولو له لارې توانېدلې چې د افغانۍ ارزښت د بهرنيو اسعارو په مقابل کې وساتي او د اسعارو د بازار په شديدو بدلونونو کې يې د لوېدو مخنيوی وکړي. افغانستان بانک ډاډ ورکړی چې ټول امکانات په لاس کې لري او که اړتيا وي، د افغانيو د ثبات د ساتنې لپاره به يې وکاروي. له شک پرته د تېرو څلورو کلونو پرمهال افغانۍ په پرله‌پسې ډول خپل ارزښت د بهرنيو اسعارو په ځانګړي ډول د ډالر پر وړاندې ساتلی او د دې اساسي دليل د افغانستان بانک له لورې د معقولو پولي سياستونو تعقيب او تطبيق دی. دغه بانک واک ته د اسلامي امارت د رسېدو له لومړيو وختونو په ټول هېواد کې په راکړه ورکړه کې د بهرنيو اسعارو پر کارولو بنديز اعلان کړ او له ټولو ملي سوداګرو، بانکونو، صرافيو او عامو هېوادوالو يې وغوښتل، چې له خپلې ملي کرنسۍ استفاده وکړي. پر دې سربېره له افغانستان څخه د بهرنيو اسعارو په ځانګړي ډول د ډالرو پر قاچاق کلک بنديز ولګول شو. د افغانۍ د ثبات لپاره د افغانستان بانک له لوري د نقدينګۍ قوي مديريت ترسره او همداراز په منظم ډول د ډالرو ليلامونه ترسره شول. هغه مافيايي کړۍ ټولې له منځه يوړل شوې، چې د بازار په بې ثباتۍ کې يې لاس درلود. له دې ورهاخوا د اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرنۍ پاليسۍ په رڼا کې افغانستان له ګاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو سره خپلې سوداګريزې اړيکې پراخې او نوي بازارونه يې پيدا کړل. دا اقدام په پرله‌پسې ډول د صادراتو د زياتوالي سبب وګرځېده. دا ښکاره ده چې افغان سوداګر د خپلو صادراتي توکو په بدل کې بهرني اسعار په ځانګړې توګه ډالر ترلاسه کوي او په افغانيو يې بدلوي. د افغانيو د ثبات په پايله کې نه يوازې روان کال، بلکې په تېرو څه باندې کلونو کې بيې کنټرول او د پخوا په پرتله ټيټې شوې دي. دغه کار د خلکو د ژوند پر سطحه مثبت اغېز کړی. د دې هڅو په پايله کې د افغانستان اقتصاد په پرله‌پسې ډول د دويم کال لپاره مثبته اقتصادي وده کړې ده. د نړيوال بانک د وروستي راپور د ارقامو له مخې، په ۲۰۲۴ کال کې د افغانستان د کورني ناخالص توليد کچه ۲،۵ سلنه وه؛ خو په ۲۰۲۵ کال کې له ۲،۵ څخه ۴،۳ سلنې ته د دې ودې لوړېدل دا څرګندوي چې د افغانستان مخ پر وده اقتصاد په يو ثابت او صعودي مسير روان دی.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټکنالوژۍ مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی


# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټه کې د لمریزې برېښنا د تولید او سوداګریز مارکېټ جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د کابل ښاروالۍ اړوند ملکیت باندې تر ځمکه لاندې د



سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له مفصل بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د کور او ښارجوړونې وزارت د نظر اخیستلو په صورت کې د یادې طرحې هراړخیزه ارزونه ترسره او راپور یې په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

په دې غونډه کې همداراز په فراه، دایکندي، غور، زابل او ارزګان ولایتونو کې د لمریزې برېښنا د تولید او په بټریو کې د برېښنا ذخیره کولو د سیستم پر طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته د افغانستان برېښنا شرکت ته دنده وسپارل شوه، څو د یادې طرحې وړاندې کوونکي شرکت ته له مشخصو شوو ولایتونو یوځو ولایتونه په نښه او په دې اړه ورسره تخنیکي او هراړخیز بحثونه ترسره او خپل جامع راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته په ټاکلي وخت وړاندې کړي.

# د امو سیند پر غاړه د تخریب شوې ځمکې د بېرته رغونې طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه نن سه‌شنبه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د امو سیند پر غاړه د تخریب شوې ځمکې د بېرته رغونې طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته په پرنسیپ کې د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې به لومړی تخریب شوې ځمکه بېرته ورغول شي او وروسته به پکې کرنیز او د مالدارۍ فارمونه او د پروسس



فابریکې جوړې شي، چې په زیاته اندازه باکیفیته محصولات به تولید او زرګونو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه هم رامنځته کړي.

همدارنګه په دې غونډه کې د کابل ښار په ۱۶مه ناحیه کې د سوداګریز او استوګنیز کمپلکس جوړولو پر طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته کابل ښاروالۍ ته دنده وسپارل شوه، څو د ځمکې ملکیت او د ملکیت پلان معلوم کړي. که دغه ځمکه د پانګونې لپاره مساعده وه، د طرحې له وړاندې کوونکي شرکت سره دې تخنیکي بحثونه ترسره او راپور دې د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

همداراز د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري په کابل ښار کې د موټر پلورنځیو لپاره د منظمو ځایونو پر ټاکلو هم بحث وشو. کابل ښاروالۍ او د اړوندو ادارو له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د کابل ښار په څو سیمو کې د موټر پلورنځیو لپاره مناسب ځایونه په نښه، د هغه لپاره طرحه جوړه او د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې سره یې شریکه کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلــو په برخـه کــې

د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي


## اوسمهال د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د ۴۰ ترانسپورټي ترمينلونو او تيرپاركونو د جوړېدو چارې روانې دي

د ترانسـپورټ او هوايي چلند وزارت مسـوولين وايي، د ښاري او بين‌الولايتي ترانسپورټي سيستم د معياري کولو په موخه تر اوسه پورې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د ۴۰ ترانسـپورټي ترمينلونـو او تيرپاركونو د جوړېدو چارې پيل شوې دي. د هغوی په خبره، ياد ترمينلونه په کابل، کندهار، هرات، بدخشــان، بغلان، کنـدز، بلخ، پروان، سمنگان، فراه، زابل، ارزگان، باميان ننګرهار او يوشمېر نورو ولايتونو کې په مهمو موقعيتونو او د ترانزيټي لارو په اوږدو کې جوړېـږي، څو د مسـافروړونکو او باروړونکو وسايطو تګ‌راتګ په ښه ډول تنظيم شي.



پر دغــه ترمينلونو او تيرپاركونو په ټوليز ډول دوه ميلياره او ۸۵۱ ميليون افغانۍ لګښـت راځي، چې د اسـلامي امارت لــه پراختيايي بوديجې ورکول کېږي. د دې پروژو تطبيقي چارې د افغان مسـلکي انجنيرانــو تر تخنيکي څارنې لاندې روانې دي، چې ملي ساختماني معيارونه او منل شــوي نړيوال نورمونه پکې رعايت کېږي او شاوخوا لس زره هېوادوال پکې پر کار مصروف دي.

په دغو ترمينلونو کې د مسافرو لپاره مجهزې انتظارخونې، جوماتونه او د اوداسه ځايونه، اداري تعميرونه، د وسايطو د تــم کېدو لپاره پراخ منظم پارکينګونه، د اوبو رسـولو او برېښنا سيســتمونه، د تخليې او بارګيرۍ ځانګړې ساحې او نور اړين ترانسپورټي سهولتونه په پام کې نيول شوي.

د دې ترمينلونو د چارو په بشــپړېدو سره به په غيرمعياري تمځايونو کې بې‌نظمي کمه شي، د وسايطو تګ‌راتګ به په منظم ډول مديريت او هېوادوالو ته به د غوره کيفيت، زيات خونديتوب او مناسـبو اسانتياوو لرونکي ترانسپورټي خدمات وړانــدې شي. دا اقدام د هېواد د ترانسـپورټي زيربناوو د پراختيا او د افغانســتان د ترانزيټي شــبکې د پياوړتيا په برخه کې يو مهم ګام بلل کېږي.

## اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

### انرژی خورشیدی؛ راهی برای کاهش وابستگی افغانستان به برق وارداتی

افغانستان به‌عنوان یکی از کشورهای دارای تابش قوی آفتاب در منطقه، ظرفیت چشـمگیری برای تولید انرژی خورشیدی دارد؛ ظرفیتـی که اکنـون تلاش‌ها برای بهره‌بـرداری از آن افزایش یافته اسـت. شرکت برشنا اعلام کرده که قرارداد ۱۵ پروژه تولید برق خورشیدی با ظرفیت مجموعی بیش از ۷۰۰ میگاوات را امضا کرده است. به‌گفته‌ی این شرکت، هم‌اکنون در نقاط مختلف کشور نزدیک به ۷۰ میگاوات برق خورشیدی فعال است. محمدصادق حق‌پرست، سخن‌گوی شرکت‌برشنا، در این باره افزود: «اکنون در کشـور نزدیک به ۷۰ میگاوات تولید برق از منبع آفتاب فعال است، و بر پایه‌ی قراردادهای امضاء شـده انتظار می‌رود که این ظرفیت در دو سال آینده به ۷۰۰ میگاوات برق برسد.» در همین حال، شماری از آگاهان اقتصادی توسـعه‌ی انرژی خورشـیدی را برای آینده کشـور حیاتی می‌دانند. آنان پافشـاری می‌کنند که سرمایه‌گذاری در این بخش می‌تواند وابسـتگی افغانسـتان به برق وارداتی را کاهش داده و زمینه دسترسی مناطق دورافتاده به انرژی پایدار را فراهم کند.

### پیشرفت بیش از ۹۸ درصدی کار قطعه چهارم راه‌آهن خواف-هرات

خط آهـن خواف-هرات یکـی از مهم‌تریـن پروژه‌های زیربنایی و ترانزیتی کشـور به‌شمار می‌رود که افغانستان را از طریق ولایت هرات به شـبکه راه‌آهن ایران متصل می‌کند. وزارت فواید عامه می‌گوید که این پروژه شـامل چهار قطعه بوده که سـه قطعـه‌ی آن تکمیل و در حال، کار سـاخت و سـاز فاز اول قطعه‌ی چهـارم این پروژه بیش از ۹۸ درصد پیش رفته است. مسوولان این وزارت پافشـاری دارنـد که تکمیـل این پـروژه می‌تواند نقش مهمی در تبدیل‌شـدن افغانستان به مسـیر مهم ترانزیتی میان آسـیای مرکزی، خاورمیانه و جنوب آسـیا داشـته باشد. محمداشرف حق‌شناس، سـخن‌گوی وزارت فواید عامـه، در این باره گفـت: «قطعه‌ی چهـارم این پروژه شامل دو فاز اسـت که فعلا کار هردو فاز جریان دارد و فاز نخسـت آن بیش از ۹۸ درصد تکمیل شده و این وزارت تـلاش دارد تا به زودترین فرصـت کارهای باقی ایـن پـروژه را تکمیل کنـد و سـهولت‌های بیش‌تری با تاجران ما ایجاد شـود.» این مسیر ریلی از شهر خواف در ایران آغاز شـده و تا شـهر هرات در غرب افغانستان امتـداد می‌یابد. آگاهان اقتصادی می‌گویند اسـتفاده از خط آهن خواف-هـرات می‌تواند هزینـه و زمان انتقال کالاها را در مقایسـه با ترانسپورت جاده‌ای کاهش دهد.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او ټــولنيزو مسايلـــو په برخــه کــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباد‌ي
هفته‌نامه آبادی


# افزایش چشم‌گیر واردات مواد سوخت افغانستان از کشورهای منطقه

افغانســتان در سال گذشــته‌ی میلادی واردات مواد سوخت از کشورهای گوناگون را به گونه‌ی چشم‌گیری افزایش داده است. این مواد شامل گاز مایع، تیل پترول و تیل دیزل می‌شود. بر پایه ی آمارها، واردات این اقلام در فاصله‌ی سال‌های ۲۰۲۴ تا ۲۰۲۵ افزایش قابل توجهی داشــته است؛ به‌گونه‌ای که واردات تیل پترول ۲۷ درصد، تیل دیزل ۵۳ درصد و گاز مایع ۳۰ درصد افزایـــش را نشـــان می‌دهـــد. وزارت صنعت و تجـــارت ارزش مجموعی این مواد سوخت واردشده را بیش از دو میلیارد و ۴۹٦ میلیون دالر اعلام کرده است. آخندزاده عبدالسلام جواد، سخن گوی وزارت صنعت و تجارت، در این باره افزود: «این مقدار مواد از کشـــورهای ایران، اوزبیکســـتان، ترکمنســـتان، روســـیه، قرغیزســـتان، تاجیکســـتان، بلاروس، امارات متحده‌ی عربی ودیگر کشورها وارد شده‌است.»



درهمین حـــال، برخی از آگاهان اقتصـــادی می‌گویند افزایش واردات مواد سوختی می‌تواند به ثبات بازار انرژی در کشور کمک کند؛ مگر وابســـتگی به واردات هم‌چنان یکـــی از چالش‌های اساسی اقتصاد افغانستان به‌شمار می‌رود.



# د کبانو روزنې د پراختيا اهميت او اقتصــادي اغيـــزې يـــې

زاهد خان

## ســـريزه

د خـــوړو خونديتوب او د پروټين لرونکـــو موادو برابرول د هر هېواد له پاره مهمه اقتصـــادي او ټولنيزه موخه ګڼل کېږي. سره له دې چې افغانســـتان د طبيعـــي سرچينو له پلوه بډای هېواد دی، خو د خوړو، بيا په ځانګړي ډول د حيواني پروټينو په برخه کې لا هم له کمښـــت سره مخ دی. د کبانو غوښه د انسان له پاره له مهمو او صحي خوړو له ډلې ده چې د بدن د ودې، روغتيا او تغذيې له پاره ارزښتناک مواد لري.

د کبانو د روزنې له پاره د هېواد له اوبو اغېزناکه ګټه اخيستل کېدای شي. د کبانو روزنه د کورنيو توليداتو او په ځينو سيمو کې د کليوالي اقتصاد د پياوړتيا لامل کېږي. د کبانو سکتور د کارمونډنې فرصتونه رامنځته کوي او د خصوصي ســـکتور د پانګونـــې د زياتېدا لامل کېږي. دغه راز، په دې برخه کې د وارداتو اړتيا هم کموي. له همدې امله په افغانستان کې د کبانو روزنې صنعت پراختيا د افغانستان د اقتصادي ودې او د خوړو د خونديتوب له پاره مهم بلل کېږي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېســـيون له لوري د «د کبانو د روزنې د پراختيا طرحه او د خصوصي سکتور د پانګونې فرصتونـــه» طرحه په هېواد کې د کبانـــو صنعت د لا ډېرې پراختيـــا په موخه تاييد شـــوې چې د کرنې، اوبـــو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري پلې کېږي.

## د هېواد د اوبو سرچينې

افغانســـتان د اوبو له اړخه د پام وړ طبيعي امکانات لري. د هېواد د سطحي اوبو ظرفيت شاوخوا ۴۹ ميليارد متره مکعب دی، خو د دې اوبو ډېره برخه نه کارول کېږي. افغانســـتان پنځه لويې سينديزې حوزې لري چې عبارت دي له پنج امو، شمال، کابل، هريرود - مرغاب او هلمند سينديزه حوزه. دغه سينديزې حوزې بيلابيل ولايتونه رانغاړي.

د افغانستان سينديزې حوزې او اقليم يې د کبانو د روزنې له پاره مناســـب چاپېريال برابروي. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د کبانو له پاره د هېواد له طبيعي رامنځته شـــوي مناسب چاپېريال څخه د هېواد په ګټه استفاده وکړي، څو له يوې خوا افغانستان کې د کبانو توليد زيات شي او له بلې خوا کاري فرصتونه ايجاد او اقتصادي وده رامنځته شي.

## د افغانستان د کبانو د اوسني وضعيت تحليل

اوسمهال په افغانســـتان کې د کبانو د روزنې ټول صنعت د خصوصي سکتور له لوري پرمخ وړل کېږي. په هېواد کې د کبانو تقريباً ۴٦۷۰ فارمونه شـــته. دغه فارمونه په کلني ډول ۱۱۴۰۰ ميټريک ټنه غوښـــه توليـــدوي. سربېره پر دې د هېواد د ازادو اوبو له سرچينو هم شاوخوا ۱٦۰۰ ميټريک ټنه د کبانو غوښه توليدېږي. د هېواد نفوس او اړتيا ته په کتو د

توليد دغـــه کچه کافي نـــه ده. همدا لامـــل دی چې په ځانګړي ډول د ژمي په موسـم کې له ګاونډيو هېوادونو هم د کبانو ډېره غوښه واردېږي، چې له هېواده د اسعارو د وتلو لامل کېږي.

په دې اســاس پـــه هېواد کې د کورني توليـــد او بازار د تقاضا ترمنځ واټن شـــته چې له امله يې د کبانو د روزنې صنعـــت پراختيا له پاره بـــه فرصت برابـــر کړی دی. د افغانستان اســـلامي امارت غواړي چې له دې فرصته د هېواد په ګټه اســـتفاده وکړي او په هـــېواد کې د کبانو روزنې صنعت ته وده ورکړي.

## د کبانو روزنې له پاره فرصتونه

د کرنې اوبـــو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري «د کبانو د روزنـــې د پراختيا طرحه او د خصوصي ســـکتور د پانګونې فرصتونـــه» تر عنـــوان لاندې جوړه شـــوې طرحه کې په افغانســـتان کې د کبانو سکتور کې د ځينو فرصتونو يادونه شـــوې. يو يې د مناســـبو اقليمي شرايطو موجوديت او د هېواد په ډېرو ســـيمو کې د سطحي اوبو شتون دی چې د دې سکتور د پراختيا له پاره مهم ګڼل کېږي. دويم يې د کبانو غوښې ته د خلکو د تقاضا زياتوالی دی. دغه راز، په هـــېواد کې د کافي بشري سرچينو موجوديت، په دې برخه کې د خصوصي سکتور د پانګونې لېوالتيا او د فارمونو جوړولو له پاره د مناسبو ځمکو موجوديت نور هغه فرصتونه دي چې کولی شي په افغانستان کې د کبانو روزنې صنعت د پراختيا لامل شي.

## د کبانو روزنې پر وړاندې ننګونې

سره له دې چې په افغانستان کې د کبانو روزنې په اړه ډېر فرصتونه موجود دي، خو دغه سکتور کې يو شمېر ستونزې هم په ګوته شوې دي. په هېواد کې د زيربناوو کموالی (د کبانو د خوراکي د توليد فابريکـــې او معياري فارمونه)، د کبانو د ناروغيو موجوديت او د کبانو د ناروغيو د تشخيص د لابراتوار نشتوالی، د مسلکي او باتجربه کادرونو کموالی او د کبانـــو د غوښـــې د پلور لـــه پاره د معيـــاري مارکيټ نشـــتوالی د دې سکتور مهم ستونزې دي. سربېره پر دې، صحـــي او باکيفيته غوښـــې تـــه د هېوادوالـــو کافي نه لاسرســـی، د خلکو له لـــوري د کبانو بې رحمانه ښـــکار، وچکالي، د اوبو ککړتيا او د کبانو د غوښـــې د پروسس او بســـته بندۍ د فابريکې نشـــتوالی نورې هغه ستونزې دي چې اوسمهال په افغانستان کې موجودې دي.

## د طرحې موخې

د هېواد د اوبو له سرچينو څخه اغېزناکه اســـتفاده، د کبانو غوښې د توليد د کچې لوړول، د کورنيو توليداتو ملاتړ او د خصوصي ســـکتور پياوړتيا «د کبانـــو د روزنې د پراختيا طرحه او د خصوصي ســـکتور د پانګونې فرصتونه» طرحې مهمې موخې دي.

## اقتصادي اغېزې

د کبانـــو د روزنې صنعت پراختيا د افغانســـتان په اقتصاد مثبتې اغېز ښندلی شي. د کورني توليد زياتوالی به د کبانو د وارداتو اړتيا کمه کړي او له هېواده به د اســـعارو د وتلو مخه ونيسي. دغه راز، د کبانو فارمونه او اړوند فعاليتونه به زرګونو هېوادوالو ته د کار فرصتونه رامنځته کړي. سربېره پر دې، د کبانـــو صنعت پراختيا سره به د کليوالو ســـيمو اقتصـــادي فعاليتونه پيـــاوړي شي او د خلکو د عوايدو د لوړېدو لامل به وګرځي.

## پایله

پـــه ټوله کې د کبانو د روزنې صنعت د افغانســـتان له پاره يو مهـــم اقتصادي فرصت برابروي. د اوبو د سرچينو شـــتون، مناسب اقليم او د بازار لوړه تقاضا هغه عوامل دي چې د دې ســـکتور پراختيا ته زمينه برابروي. که حکومت او خصوصي ســـکتور په ګډه کار وکـــړي او د يادو ننګونـــو د حل له پاره اغېزناک ګامونه پورته کړي، نو افغانستان کولی شي د کبانو د توليـــد په برخه کـــې د پام وړ پرمختګ وکـــړي، د خوړو خونديتوب پياوړی کړي او د هېواد اقتصاد ته وده ورکړي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋٦٣,٥٥ | ؋٦٣,٦٠ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ؋٢١٣ | ؋٢١٤ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋٠,٤٢ | ؋٠,٤٣ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋٧٢,٠٠ | ؋٧٢,٣٠ |
| ۱ | روسي روبل | ؋٠,٨١ | ؋٠,٨١ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋٧٤٦ | ؋٧٤٤ |
| ۱ | انګليسي پوند | ؋٨٣,٩٠ | ؋٨٤,٣٠ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋١٦,٩٣ | ؋١٦,٩٥ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋١٧,٣٠ | ؋١٧,٣٢ |
| ۱ | چيني ين | ؋٩,٢٠ | ؋٩,٢٠ |

